**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

په اروپا کی دمیشته افغانانو د تولنو فدراسیون
فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا
Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe

فارو ۲۰۱٤/۰۱/۱۹

# د پښتو ادب غښتلی خیری په حق ورسیدی

باغ د ګلوبه سمسوروی مونږبه نه یو
دبلبلوبه پری شور وی مونږبه نه یو

د۱۳۹۲لمریزکال دوهم نیمایی د پښتو د شعر او ادب د پاره د لویو ضایعاتو دوره وه. لومړی د پښتو غښتلی شاعراوادبی خیره خدای بخښلی نصر الله حافظ په حق ورسید اواوس د پښتود معاصرشعر، ادب او فرهنګ وتلی استاد اروانباد صدیق پسرلی مرینه د افغانستان د شعراو ادب د مینه والو دخپګان او د فارو دکلتوری کمیتی دمسؤولینو دژوره خواشیني سبب شو. د فارو د ۵۳ ټولنو په استازیتوب د اراوښاد محمد صدیق پسرلی او خدای بخشلی نصرالله حافظ صاحب درنې کورنې، خپلوانو او د ادب مینه والو ته د زغم، صبر او تسلیت مراتب وړاندې کوو.
استاد صدیق پسرلی د۱۳۰۷ لمریزکال دوری په میاشت په غزنی کی پیدا شوی وه د ۱۳۹۲لمریزکال دمرغومي په ۲۲ نیټه په هندوستان کې د ورپیښې شوی ناروغۍ له امله په حق ورسید. د اروانباد استاد پسرلی دجنازې لمونځ د کابل په عیدګاه جامع مسجد کې د سل ګونو مینه والو، چارواکو او د فرهنګي کړیو او د اروانباد د کورنۍ لخوا ادا او دده د تدفین مراسم په ډیرعزت سره د کابل په ریاض الصالحین هدیره کی
تر سره شو.



د تدفین په مراسمو کی پیژندل شوی پښتو لیکوال او کره کتوونکي استاد حبیب الله رفیع د استاد پسرلي په اړه وویل: «پسرلي صاحب د خپل ژوند ټوله برخه دغاټول په څیر د کړیو ښخه لرې په صحرا کې ازاده تیره کړی او د وخت د هیڅ حکومت تر سیوري لاندی نه وو راغلی.»
د اروانباد پسرلی چاپ شوی آثاردا دي: بسته ور، د نی کوڅه، کوچی ملا (ناول)، بخملی صحرا(ناول) اودغزل بڼ (دښکلی غزلونوټولګه).
دغزل بڼ د ښکلی غزلونو اوشعری صنعتونو نه بدایه غزلوکمیابه زیرمه ده. افغان کره کتونکي او ادب پوهان ته په کارده چه داروانباد پسرلی غزلونه وخیړی او پخپلو څیړنو کې د ده د شعر ښکلاوې او ځانګړنې رابرسېره او د دغه نامتو شاعر حق په ځای کړي.
ښاغلي پسرلی په ۱۳۵۹ کې پېښور ته مهاجر شو او د شپیتمو کلونو په پیل کې یې د «سپیدې» په نامه یوه مجله راوکښله، چې تر ۱۳۶۴ لمریزه پورې په منظم ډول چاپېده. په ۱۳۶۱ کې د پاسني په مستعار نامه «د وطن ویر »په نوم د حماسي او انتقادي شعرونو ټولګه یې چاپ شوه. په ۱۳۶۶ کې د سپیدې چاپ بیا پیل کړ. او ورسره یې د افغان کلتوري ټولني بنسټ هم کېښود.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

تر دې څه موده وروسته يې د افغان ادبي بهير بنسټ کېښود او د هغه مشري يې ومنله. په ۱۳۷۷ لمريز کې کډون کابل ته راغی او ترمرينه په خپل کور کې په ادبي هڅو بوخت وه .

د اروابناد نصرالله حافظ مړينه افغان ملت اوټول ادب خوښونکو ته لويه ضايعه ده. د لوی څښتن نه خدای بخښلی نصرالله حافظ ته د فردوس برين غوښتنه کوو.



حافظ صاحب خپلی زده کړې د چپرهار په لومړني ښوونځي کې پای ته رسولي دي او نوري زده کړې يې په ۱۳۳۱ لمريز کال په کابل کې بشپړې کړې. په ۱۳۳۳ لمريز کال کې د پښتنی تجارتي بانک د ((وېسا)) د مجلې مسلکي غړیٰ شو. په ۱۳۳۹ لمريز کال کې د پښتون غږ د مجلې مرستيال او وروسته د راډيو د روزني د اداري د پښتو برخي چلوونکی وټاکل شو. په ۱۳۴۳ لمريز کال کې د راډيو د تدقيق مدير او د هنر او ادبياتو د اداري مرستيال وټاکل شو. حافظ صاحب پنځه پنځوس کاله په راډيو افغانستان کې د پښتو ادبياتو په برخه کې کار کړی دی. خدای بخښلی حافظ صاحب ۱۳ چاپ شوی او۲۶ نه چاپ شوی آثارلری.

دپښتو ژبی د ادبياتوځوان مينه وال ته داهم پکارده چه د پښتوادبياتو د تاريخ په هکله دانترنت اودغربی نړی د کتابتونونه په ګټه اخيستلوسره ژوری څيرني وکړی. ترڅو دعلامه پوهاند عبدالحی حبيبی هغه هيله تر سره شی چه ۱۳۵۳ لمريزکال د قوس په پنځلسمه نيته خپل بی ساری اثر(د پښتو د ادبياتو تأريخ) د دريم چاپ په سريزه کی ليکی:«زه بيا هغه خپله هيله تکراروم. چه د دی کتاب څلورم چاپ ته زمونږعلمي محيط اړنشی اوتر دی زياته ګتوراوتحقيقی آثار د نوی علم تر رڼا لاندی راووځي او داخبره ثابته شی چه زمونږنوی نسلونه د پوهنی پرسمه لار په رڼو سترګو روان دي او کولای شی، چې داسلافو بل کړی کوچنی څراغ، لوی ځلانده مثال کاندی او دتحقيق اوڅيړنی په رڼا کی خپل ژوندښه سمبال کړی.»
اروابنادحافظ صاحب بايد په افغانستان کې د پښتو د اوسمهال غزل د مخکښانو څخه وشميرل شي، د ده غزلو کې د فورم له پلوه د اصيل کلاسيکي شاعرئ اغيزي او د محتوا له پلوه د نوي زماني غوښتني او زموږ د ماحول او چاپيريال ارمانونه سره يوځای کيږي. د مثال په توګه حافظ صاحب د يو اصلاحی شعربه پيل کی داسی غږکوی:

| | |
|---|---|
| د شمشاد له هسکي څوکي | د خـيبـر د زړه لــه نوکي |
| هــرې خواته وهم کوکي | څوک يې اوري او که نه؟ |

۲۰۱٤/۰۱/۱۷

«دفارو کلتوری کميته»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ